ژباړن : نثار احمد صمد                نېټه : ۲۰۱۰/۷/۱۱

# د ناګټونکي جنګ څخه ځان خلاصول

**په پورونو کې تر غوړو غرقېدل او د برېالیتوب څخه واتن ښایي ځکه سرونه وپېچي ، چې امریکا او ناټو لګیا دي د خپل بې ځایه افغان خطر څخه ځانونه راکاږي**

لیکوال : اریک مارګولیس ، منبع : ټورنټوسن ورځپانه ( کانادا ) ، نېټه : ۲۰۱۰/۷/۱۱

په پام کې وو چې مک کریسټل یعنې هغه امریکایي جنرال ، چې تر خوله یې اور راوتیً او د ده خاص ځواکونه « مافیا » به افغان مقاومت د لویدیځې نیونې په پښو کې دړې وړې کړي . خو مک کریسټل ځکه له کاره وشړل سو چې دفتر یې د سپینې ماڼې په هکله یوه بې ادبه څرګندوَنه وکړه . یو ډېر دماغي او سیاسي جنرال ډیوېډ پټرس د مک کریسټل پر ځای کښېنول سو . پټرس په دې توانېدلي و چې عراقي مقاومت مؤقتاً وځپي .
همدغه معمولاً احتیاط کاره پټرس تېره اوونۍ د کابل څخه دا هوډ وکړ چې دغه افغان جنګ به « وګټي » یعنې هغه جنګ چې تر ننه امریکا ته په څه کم ۳۰۰ بلیونه ډالره او ۱۰۰۰ تلفاتو سره تمام سوئ دی [ خو د مؤثقو منابعو له مخې په دې جنګ کې د امریکایي تلفاتو شمیر ۱۱۷۵ ته رسېدلی دی - ژباړن ] . ستونزه خو دا ده چې : هیڅوک هم دا نسې تعبیرولای چې ګټل اصلاً څه معنا لري . هر ځل چې امریکا خپل قوت زیات کړئ ، نو مقاومت هم ورته پیاوړئ سوی دی . افغانستان همدا نن د امریکا تر ټولو اوږد جنګ ثابت سوئ دی .

اوس هره میاشت د امریکایي مالیه ورکوونکو ۱۷ بلیونه ډالره دغه جنګ ته ځي . د ولسمشر بارک اوباما لخوا د نورو دیرش زرو پوځیانو « عاجل ډېرښت » به نور دیرش بلیونه ډالره هم کش کړي .
د افغانستان او عراق جنګونه - چې په یو ټریلیون ډالرو تمام سوي - د پور په روپیو چلېږي حال دا چې امریکا همدا نن ۱۳ ټریلیونه ډالره پوروړې ده . هو ، امریکا نن د پور او جنګ معتاده سوې ده .
کاناډایان به تر ۲۰۱۱ پورې اټکل ۱۸،۱ بلیونه ډالره مصرف کړي ، چې د هرې کورنۍ په سر به ۱۵۰۰ ډالره ورسیږي .

د امریکا کانګریس یعنې یوازینۍ هغه مرجع چې جنګ اعلانولای سي او هغه پسې تمویلوی ، په شرمندګۍ سره ولسمشرانو جورج بوش او بارک اوباما ته اجازه ورکړي چې دا قدرت ځنې غصب کړي . نن اکثریت امریکایان د دې استعماري بدمرغۍ او مصیبت سره مخالفت ښيِّي . که څه هم سیاست وال بیرېږي چې د دغه جنګ سره مخالفت مبادا « د خپلو پوځیانو سره د خیانت » په توره و نه ګڼل سي ، خو بیا هم نارضایِّیت او مخالفت ورځ په ورځ زیاتیږي .

تیره اوونۍ د جمهوریت غوښتونکي ګوند د ملي کومیټې مشر « مایکل سټیل » همدغه پښې د توبرې څخه راوکښله او دا یې ومنل چې افغان جنګ ګټونکی نه دی . جګړه پاله جمهوریت غوښتونکي له قهره وپرسېدل ، تقریباً ټولو سټیل په بې وفایي او خیانت سره متهم کړ . پر سټیل ډیرو شاهین مزاجه جمهوریت غوښتونکو انتقادیانو لکه جورج بوش او ډیک چیني پخپله د ویتنام د جنګ پر مهال د پوځې خدمت څخه ځانونه دورې هورې کښل .

جمهوریت غوښتونکو ( چې زه هم یو وخت وم ) د مک کریسټل دا معقوله کړنلاره ورانوله چې غوښته یې د امریکایي بم وریو او توپ وریو له امله د ملکي افغانانو تلفات راټیټ کړي . په افغانستان او پاکستان کې د همدې زیاتېدونکو ملکي تلفاتو په سر د لویدیځ پر ضد د خښم یوه تونده څپه ایجاد سوې ده .
جمهوریت غوښتونکي د نورو زیاتو برغلیزو بریدونو په نارو سره چې د ملکي انسانانو ژوند به د خطر سره مخامخ او طالبان به ځواکمن کړي ، یو ځل بیا په خواشینې سره راښئ چې هغوی د امریکا د ناپوهو او تاریک فکره کسانو یو ګوند او ړ غ دی .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اوباما ادعا وکړه چې غواړی افغان جګړه پراخه کړي تر څو د القاعده سره وجنګيږی . خو د دې سره سره بيا هم پنتاګون اټکل کوی چې په افغانستان کی د يو څو کوچنيو القاعده والو څخه پرته نور څه شتون نه لری . نو ځکه اوباما د امريکايانو پوروړئ دی چې د افغانستان په هکله بايد رښتيا ورته ووايي .

تر نهو کالو جګړې وروسته ، د امريکا خورا ستر پوځی طاقت ، د هغه تر غاښو وسلوالو ملګرو يعنی ناټو ، او اجيرو ځواکونو ونسو کړای چې د لويديځ اشغال پر ضد دغه مقاومت مات کړي يا دا چې په کابل کی وګړنيز او مشروع حکومت جوړ کړی . د مخدره موادو توليد نور هم زيات سوی دی .

څنګه چې امريکا د جولای پر څلورمه د بهرنيو ظالمانو څخه د خپلواکۍ اخيستلو ورځ ونمانځله ، خو مسلکی پوځيانو يې بيا په افغانستان کی هر ډول وسله د درنو بم وريو څخه نيولې تر ټانکونو ، زرهپوشونو ، توپ لرونکو هليکوپټرو ، بی پيلوټه طيارو ، درنو توپ وريو ، غونچه ای بمونو ، او هر ډول عالی تکنالوژۍ لرونکو وسايلو پوری هر څه استعمالول .
خو د دې ټول طاقت سره سره ، يو څو پښتني قبايليان او بزګران د خپلو صرف کوچنيو وسلو ، خپلی ارادې او بې حده زړه ورتيا سره د لويديځ د دغه ستر جنګی ماشين سره په وقفه ای توګه جنګيږی او هغه يې اوس يو ستراتيژيکی دفاعی حالت ته رسولی دی .

د « ګليات په وړاندی د داؤد » دغه بې رحمه جنګ نور نو د کاناډا په شمول د لويديځو قدرتونو لپاره د عزت کوم ځای نه دی پرې ايښی . هو ، هغوی نن په بهر کی يو بل داسی نا زړه سويه استعماری جنګ وينی چې د يو کوچني ولس او وروسته پاته خلکو سره کيږی او هدف يې د منابعو تسلط او ستراتيژيکی جغرافيه ده .

د بشپړ اکثريت افغانانو زړونه پسله ديرشو کالو جنګ څخه سولی ته تږي دي . خو د حامد کرزي د حکومت ، طالبانو او پاکستان دا هڅی چې غواړی سوله راستنه کړی ، نن د واشنګټن ، اوټاوا او د افغانستان د مسلط تاجک کمونيستی ايًتلاف لخوا خنثی کيږی . هند هم په افغانستان کی دغه اور ته په داسی حال کی لمن وهی چې هلته د هند تر نيونی لاندی کشمير کی ښورښ راپورته سوئ دی .

هو ، دغه کافر سوئ جمهوريت غوښتونکی « ستيل » خو صحيح دی چې وايی دغه کرغيړن او چټی جنګ ګټل کېدونکی نه دی . خو د واشنګټن استعماری لمسون بيا هم پايښت لری . په امريکا ، کاناډا او اروپا کی خورا ډير سياسی کسان په دې نامشروع جنګ پوری مبنتي دي . ګڼ شمير هم په دې عقيده دي چې د ناټو اتحاد به د همدې افغانستان په غرونو رغونو کی د واټرلو غوندی حتمی ناکامی سره مخامخ کيږی . پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ